رياض احمد چکنوری ۲۰۱۸/۰۲/۰٤

# خــاطــرات

## لومړی برخه

هره ټولنه رجال او شخصیتونه لری چي د ځينو شخصيتونو د مثبت کردار، د قدر وړلاسته راوړنو او د سالمی رهنمائي او سر پرستی په سيوری کي اجتماع او ولسونه د راحت او اطمينان ژوند تيروی او کله کله يوه ټولنه داسي مصلحين او مبتکرين وزيروی چي د جامعی د نظم په جوړولو کی دومره مؤثر خير خواهانه رول ولوبوی چه نفع يي ټولو انسانانو ته ورسيږی او د انسانيت د وياړ موجب شد.

برعکس بيا په ځينو ټولنو کي داسي نا اهله حُکام او اشخاص را پيدا شی چي د هغوی کړني او خط السير د ټولني د تباهی او شرم و عار سبب شي او بعضی اوقات يي شر او ضرر ټولی نړی ته سرايت وکړي.

د اقوامو او ولسونو د عروج او نزول تسلسل جريان لري. بشری تاريخ په دوو قسمو منقسم دی، عام انساني تاريخ کي د ټولي دنيا د انسانانو حالات بيانيږي او خاص تاريخ کي د يو قوم مذهب، ايډيولوژی او يا د يو لوی سلطنت او امپراطوری واقعات درج وي.

زه پدي ليکنه کي په ځانګړي توګه د خپل وطن د نيمي پيړی د مثبت او منفي نقش لوبوونکو او د هغوی د افتخار او عار، روش او کردار او عمومي حالاتو ته څه اشاري لرم.

ددي کُړي هر قوم او نسل زمونږ د وطن افغانستان د اوړد انقلاب، طوفاني او طغيانی بحران او جريان، روانو غميزو او ناتارونو نه ډيږ يا لږ ضرور خبر دی مخصوصاً ددغه وطن هر تن که پخپله مينه او سيمه کي اوسي او که د جهان په لراو بر سر کي استوګن دي، خو د هيواد د لګيدلی اور لمبي او تاو به ورته په څه شکل او طريقه رسيدلی او محسوس شوی وي.

دغه مملکت او ملت د دنيا د پراخ بر اعظم او د يو لوی پيکر زړه بلل کيږي چه زه او د زمکي په مخ په ميليونونو افغانان په کي زيږيدلي يو، مونږ د ډيرو حوادثو او حيرت انګيزو صحنو ليدونکی او اوريدونکی يو، پدی هکله ما د خپل محبوب هيواد زخمی افغانستان او د آسيا د مجروح زړه څو مختصری قلمي عکاسی کړی دي يعني د خپلي مشاهدي او تحليل له مخي مي د (نن او پرون) د نيمي صدی څو انځورونه د مثنوي په چوکاټ کي مرحله وار ترسيم

کړي دي. دغه د نن، پرون د خاطراتو انځورونه د شاهی رژیم د دیموکراسی له لسیزی نه تر دی دمه پوری اخستل شوی دی.

البته د دغه نیم قرن د واقعاتو هو به هو تمثیلول او د قلم په قید کي یي د تأثر اظهارول ما لپاره اسان نه و، ضرور به په دغه لیکنه کي سکتګی او کم و کاست موجود وی، نو د ښاغلي ناګار صیب لاندینی بیت یي ښه مصداق دی.

زما د نظـم لطف نشته، ترنـم نه لری
ما پخپل تال کی فریادونه، چغی، شور راوړی

## ((د نن، پرون خاطرات))

**(لومړی پړاو)**

ښایسته لـه هـر کشمیـر زمـونږ وطن و
مونږ ته ګران، محبوب او خوږ له هر خُتن و

ښه شنه بوټي، دنګي ونې، ښه هــوا وه
هسک موغرونه، ډک سیندونه، ښه ښېدیا وه

د وطن طبعي جوړښت کي خلک خوښ وو
خپل سرشار، آزاد خوځښت کي خلک خوښ وو

په ساده شان چاپېریال کې مو ژوندون و
خـو مــاحـول د آرام او د سـکـــون و

ښـه ولس و، غـم، ښادي مـو وه شریکه
د قومـونـو منځ کـې وه خــوږه اړیـکه

د سپین ږیرو مو په هرځای کي عزت و
د مشرانـو پـه کـارونـو کـې برکت و

ډېـر ځـوانـان مـو بـا عفته، حیادار وو
ډېـر ځلمي مـو بـا ادبـه، جوهردار وو

مېلمه پال بانـدې مشهور دغه کشور و
د مهمان په مخ به خلاص د حجرې ور و

سـولــه، امــن و، محیـط د اعتـمـاد و
سیـلانیانـو تـه زړه پـورې دا هېواد و

پرمختګ مو چټک نه و، پـه کـرار و
خو ټول ملک کي کم نظیره استقرار و

افغانی دیموکـراسی پـه ملک خوره وه
د تـمـریـن یـې لـس کلـنـه سابقــه وه

یو بهیر د ژونـد او زیست په حرکت و
منځـکـوره او معتـدل شان حکومت و

د دی دور ښــه لایق صدراعظمان وو
چــې یـو دوه پکښی ممتاز مبتکران وو

نـامـور اشخاص لـرل مو په ملت کي
ښه درانه رجال موجود وو په دولت کي

په کردار د ځینو اوس هم غوندی کیږی
شخصیّت یـې مجلسونـو کـې یادیږی

هـم پـاچـا مـو نـرم خـویـه او حلیم و
له نـرمــی سره نباض او هـم حکیم و

تـوازن، انــډول ساتنه کـې ماهر و
سیاسیونـو تـه یـې دغـه فن ظاهر و

** * **

داسی نه چه کمزوری نه وې نظام کې
یا نـاسمـې عنعنې نـه وې په قـام کې

وو دولت کې لوی واړه داسې عُمال هم
نا مطلوب یې طرز، روش و او افعال هم

په شاهی کهول کی هم کمی موجود و
پـدی وجـه پـه رژیم کـې څـه رکود و

اساسی قانــون دی دور کې تعدیل شو
مطلقه نظام، مشروطه بانـدی تبدیل شو

د قـانـون یـوه مـاده کـې باریکـی وی (۱)
پکښې نغښتی (لوی سردار) ته نهیلی وی

(۱) ځلرویشتمه ماده

لــوی سـردار شـو مـرور یـوه لسیزه
دل، دماغ کې یې را جوړه کړه سریزه

د (بدلـون) لپاره کار یـې پټ آغـاز کړ
ځـو چپیانو سره ګـډ یې د زړه راز کړ

هیڅ میهن کې هرڅه سم برابر نه وي
په هـر دم کې سل په سلـه اثـر نه وي

خـو په کُل کی ښه دولت او سلطنت و
چه زیات حد کی تری راضي افغان ملت و

**د لومړی برخی پای**

**نور بیا**